الحاج الهام الدين قيام



# د پاڅون وخت

نه عابد دی ، نه زاهد ، نه مجاهد دی
نه رهبردی ، نه زعیم دی ، نه قاید دی

په خوله سوله سوله وایي خوجنګ غواړي
دا هماغه د مرګونو لوی قاصد دی

لاتراوسه وسله وال دی،توپکماردی
لاتراوسه غټ ظالم دی ،مُستبد دی

د ورانیو کار نامی یی لا ژوندی دي
د کابل هراوسیدونکی یی شاهد دی

لابدل ندی ، هماغه زوړ ورانکاردی
لا هماغه پخوانی شریر مُفسد دی

له مُفسد نه د خیرتمه عبث کاردی
مُفسد هروخت په فسادکی مُستعد دی

د قومونو ترمنځ بیا ځانځاني غواړي
هریو کار یی د ملي وحدت په ضد دی

د پردیو په زور ، بیا واکداري غواړي
هر پردی یی پدی کارکی نن مُمد دی

ټول ملت لدی بلا نه نجات غواړي
ولس واړه پدی کارکی مُتحد دی

همدا اوس ټول په قیام راووځئ خلکو
چی پاڅون ته موهمداوخت مساعد دی

والدورف/جرمنی
۲۰۱۴/۰۶/۰۹